د جهان شاداب است ملل ستمدیده تا بر مردم گیتی باشد شیعیان مسلمان بر علیه شان و کفر شان باشد

(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (١١٢٨) سال نزدهم شمارهٔ (٢٥) چارشنبه (٥) ثور ١٣٧٥ هـ ش (٦) ذی الحجه ١٤١٦ هـ ق - (٢٤) اپریل ١٩٩٦ م

دحزب اسلامی دنړیوالو اړیکو مسؤل ډاکتر غیرت "بهیر" شهادت ته وویل :

هماهنگی شورا دپخوا په شان مضبوط قوت دی او دغړو ځواکونو ترمنځ یې پوره تفاهم اودنظریووالی شته

تول لوری دخپلو مذاکراتو، سفرونو ، دریځونو او پروګرامونو رپوټ هماهنګی شورا ته ورکوی

دهماهنگي عالي شورا دپخوابه شان یومضبوط قـوت دي اودغړوځواکونو ترمینځ یې پوره تفاهم اودنظریووالي موجود دي .

داتکي دحـزب اسلامي افغانستان دنړیوالو چارو مسئول داکترغیرت «بهیر» بیګاه مابنام له شهادت سره دیوې تیلفوني مرکي پـه ترځ کي څرګند کړي اوپردي سربیره یې وویل : دهماهنګي عالي شورا یومؤثر اوفعال قوت دي ، دایـه تـه پرازي دپخوا په شان په ښـه حال پاتي (٤)مخ

الهی لاربنوونی

کوم خـلك چي یوازي دهمدي دنیا دژوند اودهغي دښکلاو ښوبښتونکي وي دهغو کـړه وړه ټوله «میوه موږهمدلته ورکوو او پـدي کـي له هغو سره هیڅ کمي نه کیږي. خوپه آخـرت کي ددغه رازخلکوله پاره لـه اوره پرته نورڅه نشته .(همدلته به معلوم شي چي) څه چي هغوي پـه دنیاکي کړي دي هغه ټول خاوري ایرې شول اواوس دهغوټول کړه وړه محض باطل دي .

(هود - ١٥ - ١٦)

قاضی حسین احمد په کابل کی دمطبوعاتی کنفرانس په ترځ کی :

مونږ په نظر کی لرو چی دمنځګړیتوب له پاره نورعلماٴ هم راوغواړو

ددغـــی جـــوړی نـــتیـجـــه بـــه مـــشـــبتـــه وی

کابل - دغوایي ٤ مه :

دکابل ددولت رئیس استاد رباني

مونږته بلـه راکړه ترڅودسکیلو څواوو ترمنځ مینځګړیتوب وکړو .

داخبري تېره ورځ دپاکستان دجماعت اسلامي امیر او ددغه هیواد دسناتړي قاضي حسین احمد پـــه کابل کي خبریالانوته کړي اوزیاته کړي یې ده چي مونږ دجمعیت اسلامي اوحزب اسلامي داستازونه علاوه دطالبانو له مشرانوسره هم ګورو ترڅو دافغانستان روان بحران پاي ته ورسیږي .

قاضي حـسین احمد دخپلو خبرو په لړکي وویل : مونږ په نظرکي لرو ددغه مینځګړیتوب لپاره نورعلماءهم راوبولو هغه زیاته کړه دروغي جوړي نتیجه ان شاء الله مثبته ده اودمسئلي حل رانیژدي کیدونکي دي تربه کارده چي نوري جهادي ولي هم په دي مینځګړیتوب کي برخه واخلي ترڅو دافغانستان روان کړکیچ ژرترژره پاي ته ورسیږي اوددغه هیواد ملت دکړاوونواوستونزونه خلاص شي .

(٤)مخ

په مصرکی یولوړرتبه مامور اوڅلور عسکرد وسله والو افرادو لخوا ووژل شول

قاهره - دغوایي ٤ مه :

دمصر دمـیلا په ولایت کي دوسله والوافرادوپه ډزوکي یو لوړرتبه مامور اودامنیتي قواوو څلورعـسکرووژل شول .

دفرانسي دخبري آژانس درپوټ په اساس تورن جـنرال جـمال فایق، دغه درور، پوبریدمن اودوه پولیسان په وژل شوروکسانوکي شامل دي .

براٴثرحمله راکتي برشهرکابل

دونفرکشته و(٢٨) تن دیگر جراحت برداشتند

کابل - ٤ ثور :

مناطق مختلف شهرکابل طي ٢٤ ساعت گذشته هدف دوازده فیرمرمي راکت قرارگرفت .

براساس راپورهاي رسیده ازشهرکابل درین حمله راکتي دونفرکشته و(٢٨) تن دیگرجراحت برداشتند و چندباب منزل مسکوني شدیداً خساره مند گردیده است .

ازسوي دیگرمنابع وزارت دفاع دولت کابل ادعا نموده اندکه اهداف نیروهاي طالبان رادرجنوب وجنوب غرب کابل مورد حمله سلاح ثقیل خودقرارداده که براثرآن تلفات وخساراتي به نیروهاي طالبان وارد گردیدولي ازآماردقیق تلفات خبري دردست نیست.

په ننګرهار کی یو قومی مشر دنامعلومو کسانو لخوا ووژل شو

جلال آباد - دغوايي ٤ مه :

دننګرهار ولایت دچپرهار ولسوالي یوقومي مشر دخپلوپخوانیو دښمنانو لخوا ووژل شو.

دجلال آباد ښارڅخه دارسیدلي یوه رپوټ په اساس تیره ورځ دملك جانداد پرکور چي دنومړي ولسوالي پوئن مخورسپین زیړیو د هغه دپخوانیو دښمنانو لخوا پرې بریدوشو چي پـه نتیجه (٤)مخ

برادرحکمتیارامیرحزب اسلامی افغانستان طی سخنانی درجلال آباد:

حزب اسلامی حاضراست جهت برقراری صلح وآتش بس درکشور باهمه اطراف بشمول دولت وطالبان به مذاکره بپردازد

رهبران مجاهدین اشتباهاتی رامرتکب شده وباعث ادامه بحران کشور گردیدند

همه گروه ها باید با آغاز مذاکرات نقش ملی واسلامی خود را ایفاکنند

جلال آباد - ٤ حمل :

بحران کشور ازطریق جنگ ودخالت کشورهاي خارجي هیچ گاهي حل نخواهد شد. به اساس گزارش رادیوي مشهد (ایران) ، این مطلب را برادرحکمتیار امیرحزب اسلامي افغانستان طي سخناني درشهرجلال آباد بیان نموده افزود، کلیه گروه هادرکشورباید نقش ملي واسلامي خودرا باآغاز کردن مذاکره براي برقراري آتش بس ایفاکنند .

امیرحزب اسلامي افغانستان اظهارداشت رهـبران مجاهدین افغان درگذشته ها مرتکب اشتباهاتي شده اند که در نتیجه همین اشتباهات بحران داخلی ماتشدیدیافته وباعث مشکلات فراوان درکشور شده است ،امـا اکنون باید همه ازگذشته پند بگیرند ونگذارند اشتباهات شان تکرارگردیده دست هاي اجانب بیش ازاین به آتش بحران مادامن بزنند .

برادرحکمتیار همچنان گفت : حزب اسلامي افغانستان آماده است بخاطر حل ص(٤)

افغانهای مقیم پشاور حمایت خود رااز پاکسازی ماین ها در افغانستان اعلان داشتند

یك هیئت موسسه ماین پاکی ازپشاور عازم ژنیو شد

پشاور - ٤ ثور :

مبارزه علیه پاکسازي ماین هاي مهلك وآدمکش درافغانستان طي کنفرانسي درپشاور آغازگردید.

حیات الله « وحـدت » یکي ازمسئولین موسسه ماین پاکي درپشاور مي گوید کـه یك هیئت افغاني تحت ریاست الجنیرسیدآقا وارد ژنیـو شده ص(٤)

دروسیی یوخبری آژانس د «جنرال دودایف» له مړینی څخه خبری کوی

« جنرال دودایف »

دجنرال شخصی سکرتردهغه دمړینی خبر په کلکه ردوی

گروزني - دثور ٤ مه :

پداسي حـال کـي چـي دروسیي دایترتاس آژانس د چیچن دمبارزینو دیوه قوماندان په حواله ، دچیچـن دمـسلمان میشت جمهوریت دجمهوررئیس جنرال جوهردودایف دمړیني رپوټ ورکړي، پوشمیر نورو خبري سرچینوهغه تکذیب کړي دي .

دخبري منابعو درپوټ په اساس بل خوادانترفاکس خبري آژانس او د روسیې یوې راډیویي دستګاه، دجنرال جوهردودایف دشخصي سکرتر په حواله رپوټ ورکړي چي نوموړي جنرال ژوندي دي، اودپخوا په شان خپلوټاکل شویو وظایفوته ادامه ورکوي .

دایترتاس آژانس په رپوټ کي چي دچیچن دمبارزینو دیوه نامعلوم قوماندان (٤)مخ

دروسي پلوه حکومت دصدراعظم مرستیال دوسله والو افرادو په ډزو ټپي شو

تهران وبیروت دیروز بخاطرجنایات صهیونست ها ، عزای عمومی را اعلام کردند

هزاران نفر درخیابان های تهران مظالم وحملات رژیم صهیونست رامحکوم کردند

یك هلیکوپتر رژیم صهیونست توسط حزب الله لبنان سقوط داده شد

تهران - ٤ ثور :

همزمان باادامه حمـلات وحشیانه زمیني وهوایي نظامیان رژیم صهیونست برمناطق جنوب لبـنان، تهران وبیروت عزاي عمومي رااعلان داشته دیروز رادیو وتلویزیون دوکشور نشرات عادي خودرا ص(٤)

اطفالیکه بیشترتلویزیون مشاهده کنند به مرض چاقی گرفتار میشوند

لاهور - ٣ ثور .

اطفال که بیشتر وقت شان را صرف تماشاي تلویزیون نمایند حداکثر ممکن است به مرض چاقي دچارشوند.

طبق گزارش یك روزنامه پاکستاني این مطلب را یك انجمن طبي امریکا پس از یك سروي عـمومي اظهار داشتـه است .

درگزارش گفته شده که نتیجه این تحقیقات نشان داده است که اطفال که ص(٤)

قاضی حسین احمد امیر جماعت اسلامی پاکستان با احمد شاه «مسعود» دیدارکرد

کابل - ٤ ثور :

قاضي حسین احمد امیر جماعت اسلامي پاکستان پـس ازدیداروگفتگو با برادرحکمتـیار امیر حزب اسلامي افغانستان درجـلال آباد ، درکابل بااحمدشاه « مسعود » نیز دیدارنمود .

طبق گـزارش منابع خبري این دیدار پـس از ملاقات هـاي امیرجماعت اسـلامي پاکـستان بـا استاد رباني واستادسیاف به عمل آمده است .

درمذاکرات بین قاضي حسین احمد واحمدشاه «مسعود» راجع به حل بحران وپایان یابي درگیري هـا درافغانستان بحث وگفتگوي تفصیلي صورت گرفت .

شایان ذکراست کـه قبل از سفر امیرجماعت اسلامي پاکـستان بـه افغانستان ،یك هیئت دونفري جماعت اسلامي پاکستان وارد جلال آباد وکابل شده وبارهبران تنظیم هاي جهادي درمورد حل مسئله افغانستان دیداروگفتگوي تفصیلي به عمل آورده بودند.

روسیه در پی یك قتل عام دیگر مردم چیچن می باشد

درمناطق شالی ، ودینو واطراف آن درگیری های خونینی جریان دارد

گروزني - ٤ ثور :

چنین معلوم مي شود که روسیه ، عملیات قتل عام دیگري را درچیچن پیاده ودرعرصه اجرامي گذارد .

خبرگزاري ایتارتاس گزارش مي دهدکه بوریس یلتسن رئیس جمهورروسیه طي دیدارش بـا بیل کلنتن رئیس جمهورامریکا در قصر کریملن مسکو باتدویرکنفرانس مطبوعاتي ، ادامه درگیري ها درچیچن راردکرد .

یلتسن کـه دراین کنفرانس مطبوعاتي توسط خبرنگاران داخلي وخارجي مـورد پرسش هاي انتقادآمیز قرارمي گرفت گفت کـه عملیات نظامي ازتاریخ ٣١ مارچ درچیچن متوقف شده است .

اظهارات یلتسن درحالي صورت مي گیردکه درگیري هاي شدید وخونین در مناطق شالي، ویدنیو و اطـراف آن درنزدیکي گروزني میان مبارزان چیچن واشغالگران روسي همچنان در جریان است .

دراین درگیري ها ده هاعسکرروسي کشته وزخمي شده وخسارات زیادي ص(٤)

جریان برق درکابل بعداز یك انقطاع کوتاه دوباره آغازگردید

کابل - ٤ ثور :

جریان برق مناطق مسکوني وتجارتي شهرکابل که چندروزقبل نسبت یك سلسله عوارض تخنیکي قطع گردیده بود دوباره جریان یافت .

براساس راپورهاي رسیده ازکابل برق کابل که ازبندهاي ماهي پر، نغلووسروبي تأمین میگردد ازدوسال قبل قطع شده بود که درین اواخر دراثر همکاري همه جانبه مسئولین حزب اسلامي افغانستان جریان برق دوباره به کابل آغازیافت تاشهریان مظلوم کابل ازآن استفاده به عمل آورند. ص(٤)

عطش را باید با آب فرونشاند نه باخون : عـساکرسریلانکایی در پایان یك حمله بر ببرهای تامل ، سعی دارند پتکهای خود را از آب پرکنند ، ولی همه جا را خون گرفته است

شهادت
ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس: انجنیرحکمتیار
ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیر «بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون: ۲۵۶۳۷۸۹
آدرس پستی: ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

د «رافل» د سفراو څرګندونو تعبیر

له څه مودي راپه دي خوادافغانستان په باره کي داتودخبردي، چي امريکاپانوپوځل بيا زموږ هيواد ته پاملرنه زياته کړي کم علاقه ګي ئي پرېښي اوغواړي په دي برخه کي فعال نقش ولوبوي.

ددي خبري يومهم دليل داعنوانيږي چي په نژدي موده کي دوو مهمو امريکائي مسئولينوسناتور براون او دخارجه وزارت مرستيالي ميرمن رافل افغانستان ته سفرونه وکړل اوپه خپلووينااووکي ئي داموضوع پټه نکړله چي ربښيا هم امريکا دافغانستان اوضاع اوبحران ته توجه زياته کړي ده .

په دي باره کي چي واشنګټن ولي يوناځاپه دافغانستان په باب خپل سياست فعال کړ، مختلف نظرونه وړاندي کيږي خوترټولو مهم اوتقريباً اتفاقي يکي داده چي امريکا غواړي په افغانستان کي دايران دنفوذ مخه ونيسي، اوپه راتلونکو انتخاباتوکي په روسيه کي دکمونستانو داقتدارته رسيدو په صورت کي دځينو احتمالي چلينجونو دمقابلي لپاره په منطقه کي فعال حضورولري .

په دي علاوه دقاچاق دکنترول او ،په چين اوايران باندي دګډ څارکولو دليل هم عنوانيږي .

څومره چي دافغانستان په برخه کي دواشنګټن دسياست توداوالي ناڅاپي راښکاره شو، هندوستان ئي دايران تعديل، له مخي پاکستان ته ددري سوه څوملیونو ډالرو پوځي وسايلو اوپوسل اوشل مليونه ډالرو نقدو دبيرته ورکولو تصميم هم دبرمنتظره نه و .

دادواړه ګامونه پورته کول له يوبل سره نژدي رابطه لري ، اصلاً دپاکستان په باره کي دواشنګټن مثبت ګام پورته کول ددي لپاره طبيعي مقدمه ده چي امريکا دافغانستان په باب موثراوفعال سياست عملي کړاي شي .

ځکه واشنګټن که په افغانستان کي کوم لوي ګام پورته کول غواړي نولازمي پاکستان ده اوپوازي له همدي لاري کولاي شي خپل پروګرام تطبيق کړي . په هرحال اصلي خبره موداکوله چي دامريکا دسياست دفعاليدو دعلت په باب مهم اواتفاقي نظرراوړاندي کيږي چي غواړي په افغانستان کښي دايران دنفوذ اوروسي کمونستانو داحتمالي تشبث دخطرمخه ونيسي .

مګراوس ده‌ميرمن رافل » دسفرپه جريان او پاي کي داموضوع مخي ته راغله چي هغې دافغانستان په باره کي دايران په سياست باندي هيڅ جدي تماس ونه لرو .

دطالبانو له هغوخبروسره ئي هيڅ دپام وړدلچسپي ونښوده چي افغانستان ته ئي دايران له خوا دمتوجه خطرونو په عنوان کولي .

په دي علاوه دسفرپه پاي کي په اسلام آباد کي دمطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کي دميرمن رافل ژبه دايران "دافغان سياست په برخه کي له احتياط نه هم اخوا ده اوتقريباً ديوډول دفاع بڼه ئي درلوده .

دايران دافغان سياست په باب دڅرګندونو مفهوم داوچي :« ايران له کومي ځانګړي افغاني ډلي سره دلچسپي نلري، له ټولو سره اړيکي لري، هغه يواځي اطمينان غواړي ، له پاکستان سره ئي دافغانستان دموضوع پرسراختلاف په کميدودي اودسفارتي اړيکو دښتوالي باوجود دامريکا اوايران ترمنځ (دافغانستان پراوضاع) تفاهم کيداي شي ...»

درافل دي څرګندونو په طبيعي ډول پـه سياسي حلقو کي بولرګونګوسي راولاړکړي دي اوډېري حلقي ئي دي ته مجبوري کړي دي چي دځينو دريځونه ، سياستونه اودهغواحتمالي نتيجوته په نوي نظروګوري اوله نوي زاويي ئي مطالعه کړي .

بوه بله خبره چي ميرمن رافل په خپل مطبوعاتي کنفرانس کي ورياندي ټينګارکاوه ، هغه افغانستان ته دوسلوپه لېږلو باندي دبنديز موضوع وه ، هغه داسي چي پدي باب له مختلفو اړخونوسره بحث وشي اوبيا دملګروملتونو دنظارت دلګي په مناسبو ځايونوکي موظفي شي . په افغانستان کي چي اوس کومه وضعه ده دهغي په باب په داډول طرحي باندي ټينګاراودبين المللي پېښو لېري اونږدې ليري دابني چي ددي طرحي ترشا دبحران داوږدېدو دولچسپي نښونه پټ دي .

په هرحال ځيني داسي ننبي ترسترګو کيږي چي زموږ په لويو ځپلي هيوادکي دکومي نوي لوبي تياري نيول کيږي ، هيله داده چي دجهاد واقعي قيادتونه نورداژموينبښتونو له ښيونه دخپل مسلمان مظلوم ملت دژغورني دهمت اوکفايت مظاهره وکړي .

ننني چلينج او دسبا ستونځې!

نن اسلامي نړۍ، بلکه هر اسلامي هېواد له يوه ډېرسترچلنج سره مخامخ دي، داچي مسلمانان به ددي چلنج څخه څه ډول راووځي، داپه دي پوري اړه لري چي دهغوي سرنوشت به دعزت اوسرلوړي وي، که دذلت اوغلامي .

هغوي به دخپل تهذيب اوتمدن نقشه دخپل ايمان ، اقدارو او تصوراتو مطابق جوړوي، او کـه په خپل ځان به فرنګي رنګ رنګوي. هغوي بـه دخپلو ډېرو قيمتي ، وسايلواوذرايعو څخه دخپل ځان دترقي اوپرمختګ منزلونه تر سره کړي، که به دهغوي دسترخوان د نړۍ دوړېر قومونو دچړاوتالان لپاره يوه لمده مړي وي .

داچلنج کورني هم دي، اوبهرني هم . خودداړه په حقيقت کي ديوه چلنج دوه مخه دي . دغـه دواړه له يوبل څخه نشوبېلولاي، اوديوه په له پام غورځولو سره دبل مقابله ممکنه نده . يوي خواته په نړي باندي غالب لويديز قوتونه اودهغوي کړي په غوږي غلامان دي، دغه قوتونو اسلام اومسلمانان دځان لپاره دراتلونکي ترټولولوي خطر ګرځولي، او دهغوي مغلوب ساتل اودځان پـه رنګ دهغوي رنګول يې خپل لومړني هدف ګرځولي اوپه همدي روحـيه کارکوي، دغه قوتونه دهرډول سـياسي ، نظامي ، تخنيکي ، اقتصادي اوتبليغاتي طاقت څخه برخمن دي.

دهغوي لـه قوت او توانايي سره دمسلمانانو دقـوت هېڅ تناسب نشته دهمدي قوت اوتوانايي په بهروسه لويديزو طاقتونو مسلمان هېوادونه پداسي يوه نړېواله شکنجه کي راګيرکړي -خصوصاً د(١٩٩١) کال دخليج ترجګړي وروسته - چي هېڅ هېواد ددي مجال نلري چي دهغوي د خـوښي، د هغوي دعزايمو او ګټوپرخلاف يوډوکي حرکت هم وکړاي شي .

مخکي هغـوي پـوازي فضا ته دالوتونکو الوتکو پـه مرسته څه اوريدل پالېدل، دهغوي هېڅ نظامي مرکزنه وو، او دېښېي ځاي ته دهغوي ډېرځ درسېدو لپاره ځرمپاشلي وخـت په کارو، خو اوس دمينځني ختيزه ځمکي په هرګنج کي دهغوي يوه پوځي اډه موجوده ده . او دسترګوپه رپ کي دهغوي پوځ چيرته چي داقدام ضرورت وي، هلته رسيدلاي شي .

په سياسي لحاظ تقريباً هراسلامي هېواد دېي ثباتي سره مخ دي، چي ددي اور دتازه ساتلو پـه کارکي دلويديزو قوتونو پراخه ونډه ده . دېي ثباتي پدي آتش فشان باندي دهغوي يوته يو ګرواګي، دکارواګي په لاس کي نيولي اوناست دي. څـه ددي آتش فشان دچاودني له ويري اوځه هم دخپل طبيعت اومزاج دخوښي په بناء دغـه ګرواګي، دهغه قوتونودهرحکم دپرځاي کولو لپاره لاس په نامه ولاړ دي .

٦ پـه اقتصادي لحاظ سره دنړيوال بانك ، (I.M.F) ، دسوداګري دنړيوال سازمان (GATT) ،اقتصادي تحريمونو، اوداسي نورو وسلوسره دهرهيواد لـه خپلواکي څخه يوه بي معني کلمه جوړه کړي ده . دخپلوتبليغاتي قوتونوپه وسله هغوي له تورڅخه سپين او لـه سپين څخه تورجوړولاي شي لويديز قوتونه خپل دغه طاقتونه پوازي دخپلوسياسي او اقتصادي ګټودپرمخ بيولو لپاره نه استعمالوي، بلکي دتهذيب تمدن اوفرهنګي غلبي لپاره يې هم په آزادانه توګه استعمالوي ،هغوي دناخوښوحکومتونودرانسکورولو لپاره دو پټو» فعاليتونو څخه هم کوم تنګ نلري .(که څه هم دغه پټ فعاليت بالکل ښکاره بڼه ولري) په «تروريست» ګرځولو سره دنړي په سطحه ديوه هېواد دمنفور ګرځولو توره هم هغه هروخت څوځوي راخوځوي .

دعراق پرخـلاف تحـريم، پرايران اقتصادي بنديز، اودهغه هېواد دحکومت رانسکورولو لپاره ديودجي منظورول، دسودان پرخلاف بنديز اوهغي ته اخطار ورکول ،دچيچن پـه عامه وژنـه باندي ژوره چوپتيا، په بوسنيا کي پـه مسلمان وژنه ، دښځوپيغلو عفتيو او دهغه ملك له تباهي او بربادي څخه پـه صراحت اوڅرګندډول ملاتړ، اوبيا پر هغوي باندي ديوه داسي ترون ورتپل چي دهغي لـه مخي قاتل او وحشي ځواك بايد دسر په سترګوکښېنول شي، په فلسطين کي په خپله دفلسطينيانو په لاس دآزادي لپاره دمبارزي او هڅـو ناکامونه ، د قـاهري او پېکنګ کنفرانسونه، پر پاکستان باندي درسالت دتحقيراوتوهين د قانون دبدلولو لپاره فشار، دسلمان رشدي پرخلاف دورکړل شوي فتوا دبيرته اخيستـني لپاره پرايران باند پـه ټول سياسي اوتجارتي ځواك سـره فشـار، دا ټول د مسلمانانو پرخلاف دلويديزو هېوادونو ډېرځل پوازي څو لوبي دي .

په اقتصادي لحاظ سره دنړيوال بانك ، (I.M.F) ، دسوداګري دنړيوال سازمان (GATT) ،اقتصادي تحريمونو، اوداسي نورو وسلوسره دهرهيواد لـه خپلواکي څخه يوه بي معني کلمه جوړه کړي ده . دخپلوتبليغاتي قوتونوپه وسله هغوي له تورڅخه سپين او لـه سپين څخه تورجوړولاي شي لويديز قوتونه خپل دغه طاقتونه پوازي دخپلوسياسي او اقتصادي ګټودپرمخ بيولو لپاره نه استعمالوي، بلکي دتهذيب،تمدن اوفرهنګي غلبي لپاره يې هم په آزادانه توګه استعمالوي ،هغوي دناخوښوحکومتونودرانسکورولو لپاره ده پټو» فعاليتونو څخه هم کوم تنګ نلري .(که څه هم دغه پټ فعاليت بالکل ښکاره بڼه ولري) په «تروريست» ګرځولو سره دنړي په سطحه ديوه هېواد دمنفور ګرځولو توره هم هغه هروخت څوځوي راخوځوي .

دنن ورځي ، دي سترچلنج ته دځواب ورکولو پـه لار کـي دېرياليتوب لپاره ضروري ده چي زموږ په وړاندي زموږ کړنلاره واضح وي اوداکړنلاره په لاندي توګه عملي کېداي شي :

١- له لويديزسره ددرګيرېدو کومه وضعه چي اوس رامېنځ ته شوي په هغي کي مختلفي لوري غوره کولاي شو، په هر لارکي ظاهـراً اوس دبرياليتوب امکانات ډېرزيات ندي .

په هره لاره په برياليتوب دکورني ضعف چلنج ته دځواب ثبارولو پرته ممکن نه وي، بياهم په هره لاره په مناسبه اندازه سرچ کول ضروري دي . کېداي شي ځيني لاري داسي وي چي اوس يې غوره کول ممکن نه وي، خوروخت اوفضاء باید دهغي لپاره آماده کړاي شي، اوداهم ممکنه ده چي په يوه وخت له يوي څخه زياتي لاري غوره کړاي شي . يوه دا چي پوځي مقابله وي اوپه هغي کي موږ برياليتوب په برخه وي، په اوسني وخت کي دهغي څومره امکان شته؟ ښکاره ده چي هېڅ هم . خو يووخت داسي راتلاي شي چي دابرياليتوب ممکن وي. خو دهغي لپاره اوږده، موده اوديې شميره نورو اطرافو څخه پرمختګ ضروري دي . داهم ممکنه ده چي فعلاً دلويديزوقوت اواثرډکمولو لپاره واړه واړه نظامي فعاليتونه وشي، خوله يوي مجموعي اوپراخ پـلان څخه ليري . اما ددي ډول نظامي فعاليتونو موثر توب هم ممکن نه ښکاري . د فلسطين ،چيچن ، بوسنيا ، الجزاير او سوريي مثالونه داسي وايي .

دوهمه لارداده چي دټولو دبقاء لپاره مسلمانان پـرته لدي چي لـه چاسره ټکروکړي، په خپلوخپلو ملکوکي داسلام دهداياتومطابق دخپلي ټولني دجوړښت لپاره کاروکړي . ترکومه ځايه چي داممکن وو ضرورباید وشي، خـو لومړي لويديز پدي ډول تيارندي، دسودان مثال زموږ په وړاندي دي .

اوبله داچي په اکثرو ځايونوکي چي دلويديزوالي ځني دحکومت واګي په لاس کي لري ، دهغوي په موجوديت کي پدي لاره تلل ممکن ندي. په تيره بيا دي ټکي ته په کتوسره چي دتيرو(٥) کلونو ترڅ کي يې په څه ډول يوپه بل پسي په خپله مسلمان حکومتونه د پښـت پالني او انتهاپالني پرضد راولاړکړل .

دريمه لارداده چي په خپله دلويديز والو زړونه داسلام لپاره نرم کړاي شي، اوپه خپله له لويديز څخه چي داسلام لپاره کوم قوت حاصليداي شي، هغه حاصل کړاي شي .

٢ - لـه لويديز سـره دنيښتي پـه لارکي پـه ، له اسلام سره پـه خپله لويديزوالو دهمفکره کـولو يادااسلام دعلمبرداره ګرځولو پلان، له ډيرو اړخونو څخه دمناسبو تدبيرونو اوبنيادي تبديليو په هکله دغوراوفکرورووي .

ددي پوهيدل به ضروري وي چي دنن تهذيبي اوکلتوري مسايل څه دي کوم چي نن دهغي په هکله انسان پريشانه اودهغي دحل پـه لټه کي دي . دغه مسايلو ته به موثر داسلام لوري ته دبلني په پروګرام کـي مناسب مقام ورکړو . دمثال په توګـه سوله اوامنيت، کورني، دښځي مقـام، دبشر حقوق، دفردمقام اوحيثيت ، دهيواد اوحکومت پراخوالي له حاکمانو او سياست پوهانوڅخه مايوسي، ماحول، اوداسي نور .

په همدي بڼه دمخالفت سره سره ترهغه وخته دلويديز په وړاندي دحريف په توګه له ودريدوڅخه د ډډه کولو مناسب تدابير پکاردي ، ترڅوچي مسلمانان دتصادم په صورت کي دکامیابي امکان ونه ويني .

يوي خواته دلويديز پرملا اوجارحانه تيري، دلويديزپه وړاندي دعامه مسلمانانو کرکه اونفرت، ددي تيري په وړاندي دمسلمانانو دغه کرکي اونفرت دراپارولو لپاره دلمر اوچتولو ضرورت، اوبل خوا دحريف جوړيدو له سياست څخه ډډه کول، ددي دوو متضادو نظرياتو ترمينځ څه ډول بايد تطابق وشي، دا پريکړه کول آسان ندي .

همدارنګه ددرګيرې سـره سره دګډواومشترکو ټکو پلټنه، دنفرت اوږندي دبښني دتقويه کولو څخه ډډه ، اود «ابوجهيل » اوعمر(رض) پـه شان خلکوداسلام راوړلو، اودهغي په واسطه داسلام دپياوړتيا غوښتنه اوتدبير ... داهم يوه ډېرباريکه لاره .

داجتهادمسئله ډېره نازکه مسئله ده ، يوي خواته د سلفو روايت اوپرهغي باندي داست عمل دي، بل خواته دزماني لـه بدلون سـره د احکامو دتغيير او بدلون غوښتني يوي خواته هغه مقام دي چيرته چي مسلمانانو پـه تهذيبي اوکلتوري مسايلو کي اجتهاد پريښود، بل خوا دنن ورځي ځاي اومقام دي چي انساني علوم اوتمدن اداري دلويديزوالوله خوا ډېري وړاندي بوتلل شـوي دي، موږ پرته له هرډول مناسب بحث څخه ډېرڅه له لويديزڅخه اخيستي دي . او همدارنګه ډېرڅه مو پرته له بحـث اوتحيص څخه ردکړي دي . دځينو پـه وړاندي دلويديزهرڅه کفردي . اودځينو پـه وړاندي «حق» دي. لـويديز چي څـه جوړوي اوايجادات کړي دتکنالوژي په لحاظ نه دتمدن په لحاظ، له هغي څخه بايد څه واخيستل شي، او څه پريښودل شي. اجتهاد، اواجتهاد داړخ هم ددي پلان اواجنداء يومهم ټکي دي .

پدي ضمن کي په لويديزکي دمسلمانانو دسترګولوس موجوديت هم دالله (ج) دارادي يوداسي تدبيردي چي دهغي اهميت له پامه نشو غورځولاي . له استنبول څخه ترلاس اينجلـسه پوري دغه په لکونوپراته مسلمانان اوس داسلامي امت لومړي کرښه (Front Line) ده، دغه کرښه چي اوس دروم له سنګرڅخه وړاندي تللي او دلويديز زړه ته رسيدلي ده . دغه ښار دمسلمانانو په پلان او اجندا کي يوه مهمه پوښتنه دي ، پدي باسي سوچ ډول پکاردي چي دا مسلمانان دخپلوپرو خامير سره سره داسلام لپاره دلويديزوالو دتابع کولو په پلان کي څه ډول يوکليدي نقش لوبولاي شي .

٣ - داسـلام سره دمينې درلودو، اوداسلام په نوم دراپللو سره سره دعامه مسلمانانو يودپام وړشمېر هېڅ چيرته هم داسلام لپاره هڅـول اوسرګرم نشو، بل خواداسلامي امت دلوت لومړني سرچـښمه په عمومي توګه له يوه مقصود هدف اومدعا سره ترون دي . څرګنده ده چي پر الله (ج) اودهغه په رسول (ص) ايمان دهغوي سره محبت ، ددين پياوړتيا اودشهادت لـه شوق پرته بل کوم مقصداومدعامسلمان راولاړولاي شي . دا مقصداومدعا په کومو ساده اوعام فهمه الفاظو کي ، او په کوم اسلوب بايد بيان شي چي دعام مسلمان زړه وريږدوي ؟ په نامه مسلمانانو کي دالله (ج) او دهغه درسول (ص) سره محبت، له الله (ج) سره دملاقات شوق، اودجهاد اوشهادت جذبه څه ډول راپيداکړو؟ داهم ددي ورځي دآجندا اوپلان مهمه مسئله ده .

٤ - دلوت بله سرچشمه له ترقي څخه ژغورنه . او داسلامي امت وحدت دي، څرګنده ده چي دوحدت بنياد ،، له يوه هدف اومقصد سره داسي مينه اوترون دي چي لـه بل هرترون اوهري مينې څخه لوړدي . خـو ترڅو وروسته هم دوحدت دساتني او دهغي دپېنګولو اوله توته توته کيدو څخه دهغي دژغورني لپاره په نورتدابيرهم ضروري وي. پدي لړکي دحاکمانو اوعامه اوسېدونکو ترمينځ دتوپير او ژړو ترمينـځ ، دلويديزوالو اوختيزوالو ترمينځ ، دامير او غـريب ترمنځ ، اود بيلابيلو نژادونو اورنګونو تـر مينځ دکشمکش اوتصادم دمسايلو دحل کولو لپاره هـم بايد له سره غووروشي، داچي چيرته چيرته اوپه کوم کوم ډول بايد دغه جبهه ګيري، کـه بابالکل ختمه کړاي شي اوپه يوي ګـډي شيرازي پوري دمختلفوخيالونودرلودونکو اودنيکو اويدو ټولو دتړلو، اوديوه مقصد لپاره دټولو ديه کاراچولو هدف هم له نتيجو روږدو او تدابيروڅخه دبيلواومتفاوتو رويواوتدابيرو غوښتونکي دي .

٥ - له لويديز سـره مقابله هغه وخت ممکنه وي چي د اسلامي تهـذيب اوتمدن له نوي جوړښت دبنيادي خطرونو په ټاکلو بريالي شو ،دا مقصدديوه عظيم اجتهادي کاوش څخه پرته پرمخ نشي تللاي .

داجتهادمسـئله ډېره نازکه مسئله ده ، يوي خواته دسلفو روايت اوپرهغي باندي داست عمل دي، بل خواته دزماني له بدلون سـره د احکامو دتغيير او بدلون غوښتني يوي خواته هغه مقام دي چيرته چي مسلمانانو پـه تهذيبي اوکلتوري مسايلو کي اجتهاد پريښود، بل خوا دنن ورځي ځاي اومقام دي چي انساني علوم اوتمدن اداري دلويديزوالوله خوا ډېري وړاندي بوتلل شـوي دي، موږ پرته له هرډول مناسب بحث څخه ډېرڅه له لويديزڅخه اخيستي دي . او همدارنګه ډېرڅه مو پرته له بحـث اوتحيص څخه ردکړي دي . دځينو پـه وړاندي دلويديزهرڅه کفردي . اودځينو په وړاندي «حق» دي. لـويديز چي څـه جوړوي اوايجادات کړي دتکنالوژي په لحاظ نه دتمدن په لحاظ، له هغي څخه بايد څه واخيستل شي، او څه پريښودل شي. اجتهاد، اواجتهاد داړخ هم ددي پلان اواجنداء يومهم ټکي دي .

٦ - وروستي مسئله حکمت اوشجاعت ستقلال ، اوبدلون، مزاحمت اومفاهمت، اودجوش اوهوش ترمينځ دمتناسب توازن مسئله ده . داسي توازن چي له هغي څخه امت دخپلي کورني چيلنج او په بهرکي دلويديزچلنج مقابله پداسي بڼه وکړي چي دبرياليتوب په لوري قدم پورته کړي .

پدي ټولو مسايلو غوراوفکر اوله هغي څخه دحل ديوي مناسبي لاري دلټولو کاريوه باځوښتو دوس اوتوان څخه اوچته ده، ددي لـپاره ضرروده چي ديرګـان ، سره کښيني ، غوراوتدبيروکړي . خوزموږ باوردي چي پدي مسايلو له بحث پرته موږ په هېڅ ډول دننني چلنج سره په مقابله کي برياليتوب نشو ترلاسه کولاي . له همدي امله ده چي دا پر هرڅوك چي دغوراوفکراستعداد لـري ،بايد دخپلي برخي له پوره کولو څخه ډډه ونکړي .

دخرم «مراد» ليکنه
داحمد ضياء «رحيمزي» ژباړه

بې قابو الوتکه

مغموم

دخپل عادت له مجبوري پرپاکټ چي له پاکستاني اخبارونه جورشپدي خلاصوم اوپر مضمون چي سراوپاي يې لشته لرلم . دغه مضمون ديوي بې پيلوټه الوتکي په باره کي په يوه خبرپېليږي . ښايي دادتري ترټولو عجيب او حيرانوونکي خبروي . خبرداسي دي چي ديوي الوتکي پيلوټ دالوتني په جريان کي ناڅاپه يې هوښه شو اوپڅراتردي چي الوتکه راولويږي اوعمله يې له سپارلي سره ټول دحادثي ښکارشي دسپرليو له ولي نه پوئن چي هېڅ له الوتکي سره بلدنه دي ورټوپ کړي دپيلوټ کابين ته ننوزي اودالوتکي اداره په لاس کي اخلي بالاخره الوتکه په يوه نژدي ډګرکي روغه راکوزوي ...

ددي خبرله پاي ته وروسته ليکوال ديوي بلي الوتکي حالت بيانوي وايي چي داخودڅرساعته الوتني خبره ده عجيبه ده که نه څوزه داسي الوتکه پيژنم چي نژدي پنځوس کلونه ئي دالوتني کـېږي خو تراوسه ئي منزل ونه موند اوهمغسي په فضا کي سرګردانه ده .

دغه الوتکه پـه ١٩٤٧ کال فضاته اوچته شوي خولامنزل تـه نه وه رسېدلي چي پيلوټ ئي وفات شو. دپيلوټ له وفات سره سم دالوتکي اداره کله يوه اوکله بل پيلوټ ته رسيده ، که څه هم دوي ټول مسلکي پيلوټان وو خوله منزل نه ناخبره وو، هرپيلوټ دځان لپاره منزل ټاکلي او اوغوښتل ئي الوتکه په همغه وګرځوزه کړي چي دده دزړه ستني ورکړي دي

يوه پيلـوټ غوښتل الـوتکه دسوسياليزم په ځمکي راکوزه کړي، خو چي کله ئي په هغه لوري دالوتکي مخ ورګرځاوه يوه بل جنرال ئي مخه ونيوه کړه اوبيا په دي کش اوکرپ کي ځلوريښته پيلوټان بدل رابدل شول. خو الوتکه لامنزل ته نه وه رسيدلي او همغسي په فضاکي سرګردانه ده .دهغه منزل هغه دي چي الوتکه ئي پـه نامه راپورته شويده خوتراوسه لامنزل ته موټونه پاتي دي ...

دليکوال مطلب وروسته ښه ترڅرګنده دي دغه خپل هېواد پاکستان ښي چي له داسي الوتکي سـره بې لشـه کړي چي پيلوټ ئي منزل ته پېژني ...

خوردغه مضمون ليکوال ښايي پردي خبروي که لـه چي دده ترتوضيح شوي الوتکي هم ډېره عجيبه الوتکه شته . هغه هم کلونه کيږي چي په هواکي چورلېږي . دغه الوتکه اتلس کاله وړاندي په مسکوپوري ترلوخوړمعاشانو ديوي واکي پـه جريان کي وتښتوله دسري امپراتوري واکدارانو ته ئي تسليم کړه . هغوي په الوتکـه کي داسي تخنيکي

له تکبیره تر فریاده

بدلونونه راوستل لونسټل چي په نړې واله سطحه پري ځوك دقابض اوواکو نوروته لګوي، الوتکه دځان کړي ... ځوبيا دالوتکي سپارلي له قابضوپيلوټانواوعملي سره لاس په ګريوان شول ... بالاخره ئي الوتکه بيرته دکړيلي له طلسمي امپراتوري راووېستله ... سره واکران رسواشول ... ددوي قبضه کړي مالونه هم خپلو خپلو خاوندانو ترلاسه کړل ... دکړيلي په شاوخواکي په لسګونو نوري الوتکي اوغلاشوي موټرهم چي تښتول شوي اولوټ شوي وو خپلوخپلو صاحبانو بيرته قبضه کړل ... خوهغه الوتکه چي داسـاله زړه ئي اوچته شوي وه له سري امپراتوري نـه ډيرته راتلوپه وخت کي دوروستني منزل او شکنه کيدو په وخت کي يې قابوشوه ، دالوتکي عملي هريوه ، پيلوټي او واکدارو دعوه ... اوپه دي ډول دالوتکي په منځ کي دکابين په قبضه پـه خپله د سپارلي په منځ کي جنګ مغلوبه وشـت چي تراوسه لادوام لري. سره له دي چي دټولو سپارلي منزل اوهدف يودي ديو قوم اوږده برخليك خاوندان دي خو دکابين داشغال اوفتحي پرسرپه الوتکه کي جګړه ده .... هره شيبه دالوتکي دلويدو اوتوټه کيدو خطردي ... هره لحـه ددي الوتکي دوبرېدلو او ځکونه کرګولو خولا د جنګ مغلوبه دوام لري اوخداي (ج) خبر دي چي دغه الوتکه به بيرته روغه رمټه په خپل منزل راکوزه شي اوکه به خداي (ج) مه کړه دکومي بدي حادثي ښکارشي !!

دغه الوتکه چي نړيوال ئي دافغانستان په نوم پيژني د ١٣٥٧ کال دثورپه اوومه دحوادثو ګرداب ته ورټيل وهل شوه اوداوي ترنـه پوري همغسي يې منزله مزلونه وهي ... په بهرنيو لاسونو، پرېښانۍ، وريځو اوتوندوشـالونو سربيره دالوتکي سپارلي دننه هم نه يوازي دکابين پرسرسره لاس اوګريوان دي بلکي هرڅوك په يوه برخه قابض اودخپلي حصې يې پوښتني واکدار دي .... په دوي کي داسي کسان هم شته چي خپله قبضه کړي برخه د الوتکي له تني نه جلا کوي ... دپخوانيو پيلوټانو اوعملي څواځوږي اوپاران ! هم شته چي څواړي تخريبي عمل وکړي ددوي ګومان داري چي الوتکه لادسري امپراتوري په فضايي قلمروکي ده که تسکوريږي ښايي ددوي دپارانو اوپادارانو په ښه راشي ...

دالوتکي ټوره سپارلي په سرو سترګو ژاړي ، هغوي دکابين پرسرددوان اخ اراوپ الهام ګوري چي دالوتکي اوډټولي عملي او سپارلي له مرګ او ټوټه ټوټه کيدو پرته بل څه نه دي

ځکه انسان نه په شورکې ویده کیدې شي اونه په رڼاکې سم خوب کولې شي دهغه لپاره شپه پیداشوې ده ،شپه ددې لپاره هم ضروري ده که همیشه ورځ وې دځمکې په سرژوند ممکن نه ؤ ځمکه په دومره تودہ وه چي ژوندیه وریاندې ممکن نه ؤ ددې لپاره چي دځمکې دحرارت درجه دې متعادل وسائل شي، موږ باران ته ضرورت لرو، گورئ چي الله پاك دبحروتوله سرنه بخارات اوچت کړي، آسمان ته پورته کړي په وریځې ئې بدل کړي بادونوته امروکړي داپه سرواخلي اولرې فاصلې ته ئې زموږ په سرآسمان ته راوورسوي اودلته زموږ دپاسه باران وکړي، موږ دې اوبوته اړیو، زموږ حیوانات دې ته اړدي ، زموږ نباتات دې ته محتاج دي، اوبه دې سره هم زموږ اړتیااواحتیاج رفع شي هم زموږ دحیواناتو ، هم زموږ دفصل، کښت اوزراعت ،که دانظام نه وې دځمکې په سرژوند ممکن نه ؤ ،که معمولي توگه په دې کې تغیرراشي دځمکې په سرڅوك ژوند نشي کولي، داهره شیبه داکارڅوك کوي، دغه دقیق نظام چاوضع کړي دادچاپیرزوینه ده ،دادچانعمت دي، دادکوم ذات مهرباني ده !

دهمدغه باران په اوریدوسره زموږ هواپاکه شي، تصفیه شي، مرضونه ختم شي، مکروبونه ختم شي ، همدغه وریځې لاړې شي دغرونوپه سرباندې موږته واورې واوروي، هلته و اورې ذخیره شي، بیاهمدغه واورې په جریان دکال کې په مدار،مداروېلې کیږي لکه دعلینگار اودعلیشنگ په سیندکې رادرومي ، چیني ورنه راځي، کاریزونه ورنه راځي ،دانظام چاوضع کړي، داکارڅوك کوي غرونوکي موږته واوره څوك ذخیره کوي، زموږدپاسه وریځ څوك راولي په ژړهاو میله لرې داوریځې څوك جوړې کړې، بیائې څوك رااوچتې کړې بیائې څوك زموږ آسمان سرته راولي، زموږ په سرئې واوروي، موږ دلته درحمت اوډپیرزوینې آثارگورو ،موږکه دزوې سره مینه لرې که چوغکه گورې چي دځېلوبچیانو سره، حیوان گورې دځېلوچوچیانوسره مینه کوي اومهرباني کوي . پیغمبرعلیه السلام فرمائي چي داالله پاك دوسیع رحمت دسلوبرخو نه یوه برخه ده په دې ټوله هستۍ ئې ویشلې ، دالله پاك درحمت سل برخې دې دایوبرخه ئې خپل مخلوق باندې ویشلې چي په همدې سره موږ دخپل اولاد سره مینه کوو،اوحیوان دځېلو بچیانو سره ،مرغان دځېلوچوچیانو سره مینه او مهرباني کوي، زړه سواندلري، دلسوزي اومینه لري گورئ چي دپرندې ځالې ته چي مخصوصاً دهغه بچیان نوي پیداشوي وي څوك ورنېږدي کیږي ځان وریاندې وژني اووړوکي مرغۍ به گورئ چي نږدې ده په تاپاندې حمله وکړي چي دهغې ځالې تـه ورنېږدې کیږې خوچې کله هم دغه شي لږستر شو اوله موږیلارنه بې نیازه شو بیا ئې پروانه کوي، بیادهغه ځاله هم وراتوي پرواتې نه وي اوبیا همغه دلسوزي زړه سواند دهغه په نسبت نه وي چي مخکې ؤ، دغه ماشوم په همغه ماشوم توب کې دغـې پیرزوینې ته ضرورت لري، که داحیوان دي، که نبات دي، که انسان دي په ماشوم توب کې همدغـې پیرزوینې تـه ضرورت لري همدغه پیرزوینه اومهرباني الله پاك دهغه دمور،پلار پـه زړه کې پیداکړې ده اوترټولو زیاته مهرباني په همدغه وخت کې ده چي دې دیرمحتاج دي، چي بې نیازه شي بیا همغه مینه هم ختمه شي، کمه شي، داکارڅوك کوي، موږ باید په دې هستۍ کې درحمت اودپیرزوینې ، دزړه سواندي، دلسوزي ددې وسیعو آثاررو په لیدنه په دې باوروکړو چي دلته حتماً دغـې یوذات شته چي هغه مهربان دي، ارحم الراحمین دي .

دریم دلیل دادې چي موږدلته گوروچي هرڅه اداره کیږي، دلته ضوابط دي، دلته هرڅه محکوم دي، دیوچاتر ارادې لاندې دي اوهیڅ څه په خپل سرنشي کیدای .

دازموږلروگورو چي په معینه شیبه له معین ځاي نه چي یوزره هم تغیرنه کوي هره ورځ راپورته کیږي ، مشرقین ئې معلوم دي په دوئ کي چي له کوم ځاي نه پیداکیږي اوپه ژمي کې آخري دادوره مرحلې معلومې دي اوپه دې مینځ کې هره شیبه، هره ورځ چي له کوم ځاي نه راپورته کیږي دامعین ده ،داتغیرنه مومي، دغروب ځاي او شیبه شـي معلومه ده دورځې دراختوگورو چي په کمپیوتر کې کیدلې شي داثبت شي چي سبابه لمربه دغه ساعت په دومره دقیقي اودومره ثانیې راپورته کیږي اوپه دې ساعت ،دې دقیقه اودې ثانیه په بیرته غروب کوي، دومره دقیق نظام دې چي دیو کال نه وروسته نه داڅکل کولې شي چي فلان ساعت په فلانې دقیقه اوفلانې ثانیه راپورته کیږي اوبیا په دې لحظه غروب کوي .

عقیدتي درسونه

لومړی لوست

دوهمه برخه

لمر، شپه ، ورځ ، ځمکه ،ستوري چي داوسیع ستوري، بې حسابه ستوري په آسمان کي گورې دادیوبل سره ټکرنه کوي. داهریوه خپل مسیراومدارکې حرکت کوي. داکار څوك کوي. حتماً ددې هستۍ لپاره یوټولواك شته ،یوحاکم، یوزمامدار چي داهستي ئې ساتلې اوداهرڅه هغه اداره کوي . دلتـه موږ قواعداوضوابط گورو دادیوقاعدې مطابق درومي. څومره اوچت څې اووچیرته پریوزي یوه قاعده ده . ټن فزیك هغه قاعده تاته ښئي ددغې قاعدې مطابق ددې ځاي نه تیره په دومره قوت وارشوه . دغـې قوس طې کوي اوهلته به پریوزي ، مرمۍ دې فیرکړه قوت ئې دلته دومره دې اودا څومره تلې شي، څومره پورته ، څومره لرې دلته هرڅه گورې چي محکوم دې .

دمرگ اوژوند پـه باب الله پاك فرمائي چي کـه تاسودالله (ج) دارادې محکوم نـه یاست نو چي ستاسو روح ،ستاسو پـه کوموسټونې کې غورځیږي بیرته ئې وگرځوئ که رښتینې یاست ولې مرئ، دچادارادې محکوم یاستې له مرگ نه چاره نه لرئ، ولې خامخا مرئ هیڅوك هم له مرگ نه ځان نشي ژغورلې، هیڅوك ســو له مرگ نه نشي ژغورلې دامرگ دچاپه اراده دي، دنیاته دیوچاپه اراده راځي د هغې په اراده درومي .

